مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲/۱۱/۱۲

# د الفت «د زيارت ډېوې»

## او زموږ اوسنی حالت

### د الفت افکار او آثار

### لومړۍ برخه



استاد گل پاچا الفت

«... هو! د غريبانو په کورونو کې تياره وه، ځکه چا نه ليدل.

په دوی باندې يوازې د خدای نظر و او بس.

د دوی ډيوې دې خدای ولګوي، موږ به د زيارت ډيوې بلوو.»

(الفت)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولـئ

زمونږ پر ټولنه او خلکو باندې داسې یو حالت مستولي شوی دی چې د یوې لویې غمیزې بڼه یې غوره کړېده. ډېرې خلک داسې کارونه کوي چې اصلاً نه فاعل شخص ته کومه ګټه رسوي او نه د ټولنې درد دوا کولای شي:

ــ یو شمېر خلک پر پنځه زره کلن تاریخ باندې پرته له دې چې پوه شي، پرې وياړي او د دې وياړونو په څېر کې نور ټول اړين کارونه ترې پاتې وي،

ــ یو شمېر خلک د شهید پروری په دايره کې څنې اړوي او خپل کور، کار، درس، تعليم او هر څه ورنه هېر وي،

ــ یو شمېر نور بیا د خپلو ترسره کړو جګړو او وژنو پر نيلي سپاره دي او تر اوسه یې هم یادوي، ځان او خپل ملګري سلامت او مقابل لوری ملامت ګڼي، خپلو وژل شوو ته شهیدان وايي او د دښنه وژل شوو ته د مردار توری کاروي،

ــ ځینې بیا په اداره او سیاست کې داسې نښتي دي چې د خپلو امرینو صفتونه کوي او د اړتیا او نه اړتیا په وخت کې یې لاس لپه کړي وي او د سلګونو او زرګونو کلونو عمر هیله ورته کوي،

ــ په دې اړودوړ ګې یو شمېر بيوزلو ته زوړ ځل نه پیدا کېږي چې د ژمي په یخنۍ کې یې پر خپلو ماشوانو وغوړوي، ځینې خلک بیا  د اروپا او لندن په بازارونو کې وروستي ماډل جامو پسې ګرځي او چې بيه یې له دېرش زرو ډالرو ټیټه وي، ورګوري هم نه،

ــ او...

په دې کشمکش کې له شپیتو تر اویا سلنه عام خلک د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي او د سبا بیګا نه لري، ډېرې شپې په وږي نس ځملي؛ خو په مقابل کې شته داسې کورنۍ چې د چور تالان په پیسو یې ځانته داسې افسانوي ژوند جوړ کړی دی چې د مرفع ټولنو د خلکو په خیال کې هم نه ګرځي. جګړې ویرې او چورتونو پر خلکو داسې حالت راوستی دی چې د پاملرنې وړ شمېر خلک داسې سودايي شوي چې هر څه یې هېر دي او له لیونتوب سره لاس ګرېوان دي.

د ځوانانو د پاملرنې وړ سلنه د بېکارۍ وېرې پسې اخستي دي. یا د مسلح ګروپونو له لورې د جګړو ډګر ته لېږل کېږي او یو شمېر یې بهر ته د ټګ پر لارو د انسان ډوله لیوانو، اوبو، ځنګلونو او په پردیو ملکونو کې د بې سرنوشتۍ خوراک او ښکار شول.

سیاسیون چې په هر مقام کې وتاکل شول، وطن او خلک له یادو ستونزو د خلاصون پر ځای یوازې دوه کارونه ترسره کوي:

ــ د شتمنیو ترلاسه کول،

ــ د راتلونکو انتخاباتو له پاره کمپاین او د نور واک د ترلاسه کولو هلې ځلې.

استاد ګل پاچا الفت کلونه پخوا دغو ستونزو ته په هنري ژبه اشاري کړي دي:

«... هو! د غريبانو په کورونو کې تياره وه، څکه چا نه لیدل.

په دوی باندې یوازې د خدای نظر و او بس.

د دوی ډیوې دې خدای ولګوي، موږ به د زیارت ډیوې بلوو.»

الفت د یوه ځانګړي ملي فکر په درلودلو سره د ژوند او ټولنې هرې نیمګړتیا ته په انتقادي سترګو کتل او داسې نقد به یې کاوه چې هر څه او څوک یې د اصلاح او سمې لارې پر لوري وربلل او له ادبیاتو نه یې د یوې وسیلې په ډول داسې کار اخیسته چې د ټولنې او اشخاصو نیمګړتیاوې یې د اصلاح له پاره نقد کولې او د نوي نسل د روزلو په برخه کې یې په هنرمندانه ډول خپل رول لوباوه.

د الفت ټول منظوم او منثور آثار د ځانګړو پیامونو لرونکي، داسې ژوندي مثالونه دي چې له ټولنيز ژوند سره نيغې اړيکې لري او پر هر څه چې دی غږېږي، هغه د خلکو په عيني ژوند کې رواني پېښې وي چې دی يې د سمونې له پاره نقدوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

الفت په نظم او نثر دواړو کې د پرمختګ او تمدن ښه مبلغ دی. ده یوازې د «خیرات» نومې نثر په لیکلو سره، دومره لوی کار تر سره کړی چې لوی ګوندونه او اخبارونه یې نه شي تر سره کولای.

«د زیارت ډیوې» او «د مزار لوحه» یې د ناوړه دودونو پر ضد هغه بغاوت او چیغه ده چې آزانګې به یې پېړۍ، پېړۍ اورېدل کېږي. دا هغه ډیوې دي چې تر اوسه د هغه لوستي په زړه کې بلېږي چې یو وار یې د دغې ډیوې رڼا لیدلې وي.

کوم څه چې همدا اوس زموږ په ټولنه کې روان دي، ډېری همدې نیمګړتیاوو ته الفت په خپل وخت کې ګوته نیولې وه، چې تاثیرات یې په هماغه وخت کې ډېر ښه محسوس و او د ټولنې د لوستې قشر په ژوند، نظر ـ عمل او په ځانګړې ډول په فکر کې یې ژور بدلون راوستی و؛ خو اوس زموږ په ټولنه او خلکو باندې داسې حالت راوړل شوی دی چې هر څه سرچپه شوي دي او هیڅ څوک د هیچا خبره، انتقاد، شکایت او حکایت نه اوري، زموږ سیاسیون او شتمن هغه څه کوي چې باید ویې نه کړي.

د زیارت ډیوې، د ذهنونو د رڼا کولو ډیوه دي، دلته به یې یوازې د زیارت ډېوې نومی نثر راواخلم:

## د زیارت ډیوې

«د جمعې مبارکه شپه وه. خلک زیارت ته تلل او ډیوې به یې بلولې. ځینو به په خاورینو ډیوو کې تیل اچول او ډیوې به یې لګولې. په زیارت کې ډېرې ډیوې روښانه شوې او خلک خپلو کورونو ته لاړل.

هلته هیڅوک پاتې نه شول او ډیوې ټولې د زیارت په اروا بلې وې. زه چې کور او کلي ته راغلم، په کلي کې د غریبانو کورونه تیاره وو. هغوی تیل نه درلودل، ځکه په تورتم کې ناست وو. څوک چې په ثواب پسې ګرځېدل، ټولو د زیارت ډیوې ولګولې او د خوارانو غریبانو له حاله نا خبره وو.

هو! د غریبانو په کورونو کې تیاره وه، ځکه چا نه لیدل.

په دوی باندې یوازې د خدای نظر و او بس.

د دوی ډیوې دي خدای ولګوي، موږ به د زیارت ډیوې بلوو.»

(الفت ګل پاچا، د الفت نثري کلیات، دویم چاپ، د محمد اسماعیل یون په زیار، خپرونکي: الفت اکیډمي او دانش خپرنځی، ۱۳۷۸ ل، ۳۳مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ